# د دوېمې ژبې په زده کولوکښې راپېښېدونکې ستونزې او مسلې
# ( يوه څېړنه )
# PROBLEMS AND ISSUES IN LEARNING OF SECOND LANGUAGE

[1]Dr. Shukriya Qadir [2] Farkhanda

## ABSTRACT

*Pashto is an ancient language. The importance of which is acknowledged. This language has maintained its existence for thousands of years and it is a clear proof of the strong foundations of this language. At different times non-native speakers have tried to learn Pashto but they have had great difficulty in learning it. Especially after 9/11, its importance increased globally. As a result, many people came to the field to learn this language as a second language. But they faced many difficulties and problems in learning it. This article highlights all the difficulties and problems that a non-native speakers may have in learning Pashto as a second language.*

*Keywords: ancient, non-native speakers, secondary language, importance.*

Pukhtunkhwa Journal

[1] Assistant Professor, Department of Pashtu, Abdul Wali Khan University, Peshawar
[2] PhD scholar, Pashtu Academy, University of Peshawar

ژبه په انساني اعضاء کښي ډېر اهم او مهم عضو دے. ددي په ذريعه هر بنيادم د خپل مافي الضمير اظهار کوي.دا نطق يا ګويايئ هغه ارزښتناکه آله ده چي بنيادم ته ئي د ځناورو نه يو لوے امتياز بخښلے دے. د اردو ژبي نامتو ليکوال خليل صديقي د ډاکټر محي الدين په حواله ليکي

" ژبه دهغه حرکتونو او اشارو نامه ده کوم چي د بنيادم د خيالاتو او احساساتو نه جوړيږي. دي کښي د ټولو نه زيات دنطق قوت شامل وي. دغه حرکتونو او اشارو باندي بل بنيادم هم پوهيږي او هغه چي ئي کله هم وغواړي نو دغسي کولي شي." ۱

دپښتو ژبي او ادب ستره ليکواله ډاکټر بشري' اکرام د ژبي په ترڅ کښي اظهار خيال په دے ډول کوي.

" ژبه انسان ته د الله تعالي' د طرف نه يوه خصوصي تحفه ده. ژبه هر ځاے موجود ده. زمونږ په سوچونو، خوبونو، دعاګانو زمونږ په تعلقاتو او زمونږ په رسمونو رواجونو ټولو کښي ژبه موجود ده. دا علم خزانه ده ، دسوچ ذريعه ده. د ژبي په ذريعه مونږ علم د يو نه بل ته او بل نه بل ته منتقل کوؤ." ۲

ژبه د بنيادم د خيالاتو د اظهار او بيان موثره او معتبره ذريعه او وسيله ده ۔دغسي ژبه د خبرو رسولو يو داسي جوړښت او نظام دے چي انسان ئي کاروي ـــــ په دې کښي ددې خبرې ،اشارې، نخښي نخښاني او ليک شامل دے .انسان ته په قران کښي اشراف المخلوقات وئيلي شوے دے ـــــ او د ټولنپوهني استادان ئي د سماجي حيوان په نامه يادوي ،خو د عقل لرلو په سبب او خبرو کولو په برکت حيوان ناطق بللے شـي او هم دغه عقل او پوهي په کائيناتو د واکمنی جوګه ګرځولے دے ۔

دسحر ګل کتوزئ د ليک تر مخه

"د انساني تهذيب له پرمختک نه ډېر، پخوا کله چي انسان خبرې نۀ شوې کولي نود اشارو ،بې ترتيبه اوازونو او صوتي غږونو په ذريعه به ئي يو بل د خپلو خيالاتو نه خبرول خو چي انساني ژوند ترقي شروع کړه نو ورو ورو ئي دلفظونو او غږونو استعمال هم زده کړو ۔ دغه لفظونه او غږونه د ترتيب او سمون د مرحلي نه تيرېدل تيرېدل او اخير دا چي د خيالاتو ، احساساتو او افکارو د ځرګندولو له پاره يوه خوندوره طريقه او وسيله په وجود کښي راغله ۔دغه طريقه او وسيله ژبه بللے شي ۔" ۳

پروفيسر داور خان داود د ژبي په حواله د خپلو خيالاتو ځرګندونه داسي کوي

"د ژبپوهانو په خيال انسان دخپل تخليق په ابتداء کښي د خپل خواوشا مرغيو او ځناورو د اوازونو پخپله هم داسي اوازونه ويستل ذده کړل ،هم دغه ئي د خپلو خيالاتو او احساساتو د اظهار او بيان دپاره تر څه مودې استعمالول ۔ وروستو بيا هم دا اوازونه د ژبي ابتداء وګرځېده ۔ هر کله چي د نړۍ بېلو بېلو قبيلو چي د يو بل نه لرې اوبيلي دي ۔ د خپلو خيالاتو د اظهار دپاره جدا جدا اوازونه ټاکلي وو ۔ په دې وجه د دوي ژبي هم په بېله بېله لار رواني شوې ۔دا شان په زرګونو ژبي او لهجي جوړي شوې اوس پکښي ډېرې ختمي شوي او لږې ډېرې پاتي شوي دي ۔" ۴

دلته دا خبره کول هم ځائے لري چي انسان او حيوان په اوازونو کښي ډېر غټ توپير دے ـــ قران کښي د الله پاک ارشاد دے ۔

"خلق الانسان 0 علم البيان 0 " ( ۵ )

ترجمه (انسان مي پيدا کړو او ورته مي بيان وښودلو) ۔

د کتاب ژبپوهنه له رويه

" ژبه صرف انساني خاصه ده. د انسان نه بغير بل ذي روح له الله تعالي' د ژبي يا د ګويايئ طاقت نه دې ورکړے- او نه ئط د نطق اعضاء ورکړي دي ، ژبه يو ډېر پيچيده نظام هم دے چي صرف انسانانو سره تعلق لري." ۶

"دا په انسان د الله لويه پېرزونه ده چي ده ته ئي د ګويايئ د آلي يعني ژبي سره سره عقل شعور هم ورېخښلے دے. د انسان د ترټوړي په سر کښي دوه اواز پيدا کونکي داسي پردې لګيدلي دي چي دهغي په ذريعه غږ يا اواز په جدا جدا شکلونو کښي بهر ته راوځي .دغه نه بلکې ددي نه علاوه الله تعاليٰ بنيادم ته د نور داسي صوتي آلات ورکړي دي لکه غاښونه ، اورۍ، شونډې، ژبه او پوزه چي دغه د نورو سا لرونکو نه په فرق او ښائسته دي. دغه ټول آلات په خپل خپل ځاے په اواز يا غږ پيدا کولو کښي برخه اخلي خوبنيادي کردار پکښي

ژبه لوبوي. اخلي. د پوهانو د وينا تر مخه ټکے يا حرف د اواز يو هيئت او حالت دے.اود حرف نه لفظونه په وجود کښې راځي. هم دغه لفظونه وي ژبه دې ترې جوړيږي. " ۷

د ژبې په حواله مختلف پوهانو مختلفې نظريې وړاندې کړې دي ستر عالم ابن حبني په ژبه کښې د صوتي علامتونو نظرئې قائل دے ـ د دهٔ په خيال هر اواز په خپل ذات کښې يوه ټاکلې معنیٰ لري. په دې لړ کښې دهٔ په خپل کتاب "الخصاص" کښې په تفصيل سره بحث کړے دے. په دې لړ کښې مشهور يورپي ژبپوهان ساسير خپله نظريه داسې څرګندوي -

"د يو لفظ اواز په خپل ځاني اهم نهٔ دے بلکې هغه دصوتي توپير په وجه اهميت لري چې زمونږ ورسره د نورو ټکو نه سپوا پيژندګلي کيږي او هم دې کښې معنیٰ پټه وي" ۸

په نړۍ کښې دهر يو قام او اولس ځانله ځانله ژبه ده، چې ددغے قام تشخص پرې قائم وي او د هغوي د پيژندګلو باعث وي . او هغوي پرې د ژوندانه ضروتونه ترسره کوي ـــ ددې نه علاوه ژبه د يو قام هاغه وسيله وي چې د هغوي د کلتور، تاريخ ، روايات ، تمدن او تهذيب، رسم ورواج اثاثه پرې ائينده نسلونو ته منتقل کيږي ـ د بلوچستان د سيمې تکړه ليکوال عارف تبسم په دې اړه خپله رائې په دے ډول بيانوي

"د يو قام د پيژندګلو ترټولو لويه نخښه ژبه ده. ژبه د انسانانو ترميان د ورځني ژوند د اړيکو په اړه ډير زيات ارزښت لري. ژبه هغه ذريعه ده چې هم انسان د خپلو جذباتو او احساساتو بشپړه اظهار پرې کوي ـ يو قام د کلتور هر اړخ ژوندے ساتي او خوندي کوي تاريخ ګواه دے چې هره ژبه ورکه شوې ده نو د هغه ژبې خښتن قام او د هغه واړه کلتور (ثقافت) هم ورک شوے دے ولې چې ژبه يو تورے ويونکي قام رسمونه رواجونه او شناخت ژوندي ساتي، په حقيقت کښې ژبه صرف د تورو مجموعه نهٔ وي بلکې هر يو تورے په خپل ځائے باندې يو قدر دے او هغه قدر د هغه قام د کلتور برخهٔ ګرځيدلي وي ـ" ۹

په عمومي توګه ژبه دوه قسمونه لري . يو بنيادي ژبه يا مورنۍ ژبه ، Primary language او دويم ثانوي ژبه يا دويمه ژبه Second language.

بنيادي ژبه چې مورنۍ ژبه ورته وئيلي شي او دويمه ژبه چې ثانوي ژبې حيثيت لري ـ په انګريزۍ کښې مورنۍ ژبې ته په لنډو کښې First language يعني L1 او ثانوي ژبې ته 2nd Language يعني L2 وائي ـ

لکه څنګه چې وړاندې ذکر وکړے شو چې دژبې د ټولو نه مهم اړخ دا دے چې ژبه مونږ دنورو ټولو مخلوقاتو نه بيلوي . هم دا رازد ژبې يو لوے او متاثر کن کار دا دے چې ددې زده کړه په نفسياتي او علمي دواړوه ډوله د انسان د ترقي سوب ګرځي. هم له دې کبله بنيادم اول هغه ژبه زده کوي دکومې سره چې دهغه په وړوکوالي کښې واسطه راغلي وي.دغې ته مورنۍ ژبه وئيلي شيو بيا هغه نورې ژبې زده کوي خودغه ژبې دوړومبۍ ژبې نه مختلف وي.دغه اختلاف په څو ډوله وي.د مثال په توګه

- وړومبۍ ژبه مورنۍ ژبه وي او دويمه ژبه دمقامي خلقو سره د ارتباط نه زده کولی شي.
- وړومبۍ ژبه جبلتي وی، چې د پيدا کيدو سره سمه پيل کيږی او راتلونکې تجربې ئې پخلے کوي، ددې په پرتله دويمه ژبه د يو کس ذاتي انتخاب وي.
- دمورنۍ ژبې نعم البدل نشته، داد يو کس پيدائشي حق وي. د دويمې ژبې يو شمير نعم البدل کيدې شي.او يو کس په ګڼو ژبو کښې ځانله د زده کړې د پاره انتحاب کولے شي.
- دمورنۍ ژبې د زده کړې عمل ډير ګړندے او تيز وی، ددې په مقابله کښې د دوئمې ژبې د زده کولو عمل ډير رو وي.
- مورنۍ ژبه پيرزونه ده او دويمه ژبه اکتساب دے. مورنۍ ژبه په شپږ کاله کښې په بشپړه توګه زده کيدې شي. ولې د دويمې ژبې په ډول د زده کړې دعوي' څوک نه شی کولی.
- د مورنۍ ژبې زده کړه په فطري ډول حاصليږي او هيڅ قسمه لارښودنه نه غواړي.د دويمې ژبې دپاره لارښودنه ضروري وي په دې چې ددې زده کړه په فطری ډول نه وی.
- مورنۍ ژبه د يو بنيادم د امروزه ژونديوه فطري برخه وي او دويمه ژبه د يو انسان د ژوند يو نوے اړخ وی.
- دمورنۍ ژبې زده کړې ته دشعوري زيار ضرورت نه وي، دا يو لاشعوري عمل وي، او دويمه ژبه دمسلسل کوشش او شعوري زيار په نتيجه کښې مخې ته راځي ـ ۱۰

مورنۍ ژبه: Primary language

L1 خو ډيره په اسانۍ سره زده کيږي ـ د دې زده کړې د مور په غيږ کښې کيږي نو ځکه ورته مورنۍ ژبه وائي ـــ د خپل کور او ماحول نه زده کيږي ـــ د سکول، مکتب، کالج يا د بلې کومې ادارې ضرورت ورته نهٔ وي ـــ په کوڅو کښې د وړو سره د لوبو نه زده کيږي په دې کښې هيڅ رنګه زيار ته ضرورت نهٔ وي ـــ يا

ماشوم د ستونزو سره نهٔ مخ کیږي ـــ د مورنۍ ژبې زده کړې په غیر روایتي توګه کیږي ـــ ورومبی ژبه د بنیادم مورنۍ ژبه وي. د دویمي ژبې د زده کړې دارومدار د مورنۍ ژبې په رغونه وي. که د مورنۍ ژبې ســـاخت دویمې ژبې ته ورته وي نو بیا ئې زده کړه اســـانه هم وي او تېزه هم وي. ځکه چې د مورنۍ ژبې او دویمي ژبې په یوبل ډېر جوت اثر وي. بلکې دغه اثر په دویمه ژبه د ورومبی یا مورنۍ ژبې نه زیات وي. ۱۱

ارواښاد پروفیسر داکټر محمد اعظم اعظم صېب لیکي ـ

"په مورنۍ ژبه کښې وینا او زده کړه د فطرت د کتاب اولنے سبق دے او دا د نړۍ د هرې ژوندۍ او مهذبې سیمې د اوسېدونکي انساني حق دے چې هغې ته په خپلې مورنۍ ژبه کښې د لیک لوست او علم پوهې د حاصلولو موقعې په لاس ورشي ۱۲

ثانوي یا دوېمه ژبه:Secondary language or L2

د سیکنډ لېنګویج یا پردۍ ژبې د زده کړې دپاره د پوهنځاے ، ښوونځاے یا د بلې کومې ادارې ضرورت وي ـ چې هلته د استاد په رهنمائیی کښې کښې ژبه زده کړې، دغې عمل دپاره د کلاس ، کتاب، قلم او د کاغذ نه علاوه ماحول هم پکار وي ـــ د بلې ژبې د زده کولو دپاره د ټولو نه لوے استاد ضرورت یا احتیاج او حاجت دے ، کله چې انسان ته ضرورت پېښ شي نو هغه بیا مجبور شي چې دویمه ژبه زده کړي . او هم دا وجه ده چې دا ډېر محنت او کوشش غواړي ـ مطلب د دې زده کړې په روایتي توګه کیږي ـ

اوس که یو سړے غیر اهل زبان دے او هغه سپکنډ یا دویمه ژبه زده کوي نو هغه د ګڼ شمېر ستونزو او مسلو سره مخ کیږي او بیا چې پښتو زده کوي نو یو شمېر ستونزې ورته مخې ته راځي ـــ که په دې حقله په ستونزو نظر ولرو نو دا لاندینۍ غټې ستونزې مخې ته راځي ـ

د ماحول یا چاپېرچل ستونزه:

لکه څنګه چې د نور تعلیم او تعلم دپاره دیو ځانګړي ماحول او چاپېرچل ضـــرورت وي ، چې زده کوونکي پکښې په ارام سره خپلې زده کړې تر سره کوي . هم دغه د یوې ژبې د زده کولو په سلسله کښې د ماحول لوے لاس وي . که یو زده کونکي د اهل زبانو یوښه ماحول میسر وي نو هغه به ډېر زر او په لږه موده کښې خپل مرام تر لاســـه کړي . او که هغه ته ســـم او صـــحي ماحول په لاس ورنه شـــي نو نتیجه به ئې بیا اپوټه وي . هغه به د ستونزو سره مخ کیږي او دمتعلقه دژبې په زده کولوکښې به ناکامه کیږي .

دپښتو پټۍ یعني حروف تهجي مسله:

الفبي یا حروف تهجي انسان د اوزونو دپاره د علامتونو په توګه استعمالوي ـ دغه جوړ کړې شوي علامتونه هر یو د ټاکلي اواز ترجماني کوي ـــ دا پښتو ژبې کمال دے چې پښتو چې پښتو کښې څومره الفبا دي دومره ئې اوازونه دي ـ ځکه مونږ وئیلې شو چې دا یوه صوتي ژبه ده په دې وجه ځکه د یوې ژبې الفبا ته صوتي علامت، صوتي اشارې یا د اوازونو مطالعه هم وائي ـــ د انګرېزۍ او اردو الفبا د پښتو نه ډېر کم دي ـــ دې کښې څلور د فارسۍ ،درې د سنسکرت یا هندۍ او یوولس د عربۍ شامل دي ـ ټول څلور څلوېښت جوړېږي په دې وجه ګران پرېوځي ـ " ۱۳

د ذخیره الفاظو کموت ستونزه:

د دویمې ژبې د زده کړې دپاره یو ضـــروري څیز د الفاظو ذخیره ده. چونکې د هرې ژبې د ذخیره الفاظ جدا جدا وي ـــ ځکه نو د خیال د څرګندولو دپاره د یو کس سره د الفاظو ذخیره بې کچه ضروري ده ، په دې چې د زده کوونکي سره د الفاظو یو شمېر مواد موجود وي ـ نو هغه به د خپل مافي الضمیر اظهارکولې شي. خو دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې الفاظ یادول ځانله یوه لویه مسله ده او په یادولو ئې یو کس د ډېرو مسلو سره مخ کیږي ، دې سلسله کښې یو کس ته د لغتونو،د کتاب، استاذ، لائیبرېرۍ، ضرورت پېښیږي کوم چې د زده کوونکي ته ستونزې راپیدا کوي او ژبې په زده کولو کښې کښې ورته خنډ جوړېږي .

د تلفظ یا ادائیګۍ ستونزه :

اکثر اهل زبان نالوستي خصوصا" او لوستي عموما" د خپلې ژبې د الفاظو په ادائیګۍ کښې ډېرې غلطۍ کوي نوښکاره خبره ده چې د دویمي یا پردۍ ژبې د لفظونو ادا کول خو لاډېر ګران وي ـــ په دغه لړ کښې که یو سړے ډېر محنت هم اوکړي ولې د تلفظ سمه ادائیګي نه شي کولې.ـــ مونږ پښتانهٔ چې د انګریزي یا د اردو څه خاص ټکي ادا کوو نو اردو یا انګریزۍ ویونکي په مونږ پورې توقې کوي ـ د یوې ژبې په صحي توګه ادائیګي خو اهل زبان کولے شي، یو غیر اهل زبان لیکل خو به ټیک اوکړي خو ادائیګۍ کښې به ورته ضرور مسئله وي ـ بیا د پښتو د ټکو ادائیګي خو ډېر کړاؤ او محنت غواړي ـ ددې نه علاوه د روانۍ یعني (Fluency) عنصر د یوې

**ژبې د ويناداپاره ډېرضروري دے ـــ دغه عنصر د بلې ژبې د وئيلو د ډېر رياض نه پس په يو کس کښې راتلې شي، څومره څومره چې يو کس په باقاعدګۍ سره دغه ژبه وائي دومره دومره به ئې په وينا کښې رواني راځي**

**د لهجې يا ګړدود مسله:**

**ژبپوهان وائي چې هر درې ميله پس د يوې ژبې لهجې بدليږي ـ يو ټکے يو ځائے کښې يو شان وي او بل ځائے بل شان وي ـــ د شمالي او جنوبي پښتونخوا په لهجو کښې واضح توپير دے ـــ عن تر دې چې په يو کلي کښې څو خېلونه اباد وي د ټولو په وينا کښې څه نۀ څۀ توپير ښکاري او بيا د علاقو توپير خو ډېر زيات وي ـ ډاکټر عبدالله جان عابد ليکي ـ**

"ماہرين نے زبانوں کی ايک خاصيت يہ بهہ بتائی ہے کہ ان کے لہجوں ميں فرق ہوتا ہے اس اصول کی بنياد پر پشتو کے بهی کئ لہجے ہيں، بلکہ ہر قبيلے کا لہجہ دوسرے قبيلے کے لہجے سے مختلف ہے ليکن قندہاری او يوسفزئ دو لہجے ايسے ہيں جو ان تمام لہجوں کی نمائيندگی کرتے ہيں۔"۱۴

قندهاري لہجہ:

يہ لہجہ صوبہ سرحد کے جنوبی علاقوں اور بلوچستان کے پشتون علاقوں ميں رايج ہے۔ اس کے علاوہ يہ جنوبی افغانستان ميں بولی جانے والی زبان کی بهی نمائندگی کرتا ہے۔اس لہجے کو جنوبی لہجہ بهی کہاجاتا ہے۔اور بعض اوقات خٹک لہجہ بهی کہاجاتا ہے۔" ۱۵

يوسفزئ لہجہ:

يہ دوسرا بڑا لہجہ جسے متعقدين يوسفزئ لہجہ اور متاخرين پشاوری لہجے کہتے ہيں۔کچھ ماہرين لسانيات اسے شمالی لہجہ بهی کہتے ہيں۔يہ لہجہ صوبہ سرحد کے شمالی علاقوں کے علاوہ افغانستان کے بعض علاقوں ميں بولا جاتا ہے۔" ۱۶

لہجوں کا فرق:

ماہرين نے پشتو زبان ان کے دو لہجوں قندہاری لہجہ اور يوسفزئ لہجہ کی تقسيم دراصل بعض اوازوں کی مخصوص ادائيگی کے فرق کے پيش نظر کی ہے" ۱۷

وجاحت کيلئے مندرجہ ذيل الفاظ ملاحظہ ہوں۔

| قندہاری لہجہ | يوسفزئ لہجہ |
|---|---|
| **غوژ** | **غوږ** |
| **کوژ** | **کوږ** |
| **اوش** | **اوښ** |
| **چادر** | **څادر** |
| **چوکيدار** | **څوکيدار** |
| **وريژې** | **وريږې** |
| **پشه** | **پښه" ۱۸** |

**د پښتو محاورې مسلې**

**محاوره د يوې ژبې د فصاحت او بلاغت ښکاره ببلګه وي ، ددې په استعمال سره د يوې ژبې په بيان کښې جامعيت راځي ، هم دا وجه ده چې د دويمې ژبې په زده کړه کښې د محاورې استعمال ته ډېره پاملرنه پکار ده. اهل زبان دپاره د محاورې په مفاهيم پوهېدل څه مســـله نه وي خو غېر اهل زبان چې بله ژبه زده کوي نوهغه د يوې لوئې ستونزې سره مخ کيږي ځکه چې محاوره د اسم او فعل نه جوړښت بيامومي ، داسې چې اسم او فعل په يو**

ځاے راشي او په مجازي معنو کښي استعمال شي. دغه مجازي معنو باندي پوهېدل اصل کښي ستونزي راپیدا کوي .

چي کله کله پري اهل زبان هم نهٔ پوهیږي ـــ ولې په غیر شعوري طور ئې په خبرو کښي استعمالوي وي . د اروابشاد پروفیسر داور خان داود دلیکني په رڼا کښي

"محاوره یو عربي الاصل لفظ دے چي د فارسی په لاره پښتو ته راغلے دے ـ په پښتو کښي ددې دپاره مترادف او متبادل لفظ نشته د افغانستان پوهانو د دې دپاره د "ګړنی" اصطلاح وضع کړې ده" ۱۹

وړاندې لیکي

دا دوه جوت اړخونه لري ، یو حقیقي او بل مجازي ـ تر څو چي څوک د دې په حقیقي معنو نهٔ وي پوهه شوې په مجازي معنو ئی نهٔ پوهیږي ـ ۲۰

هم په دغه مقاله کښي لږ مخکښي وائي

اوس د پښتو ژبي زده کوونکے دپاره ګرانه په دې وجه ده چي "محاوره سیمه ایزه معنٰه هم لري او یوه محاوره په یوه سیمه کښي یوه او په بله سیمه کښي بله معنیٰ لري" ـ ۲۱

د پښتو ګرائمر ستونزه:

څنګه چي د پښتو الفبا ، تلفظ او لهجي ګراني دي هم دغه رنګه ئې ګرائمر هم ګران دے ،سرے ژبه هله زده کولے شي چي د هغې ژبي په ګرائمر ځان پوهه کړي ـ

"ګرائمر د یوې ژبي هغه بنیادي اصولو او ضابطو ته وائي چي د هغې په ذریعه د هغې ژبي وئیل ، لیکل او لوستل د غلطیو نه محفوظ شي ـ په لنډو ټکیو کښي د یوې ژبي د صحیح استعمال دپاره وضع کړې شوو، قاعدو او طریقو ته ګرائمر وائي" ۲۲

لکه څنګه چي د انساني بدن بېلابېل اجزاء دي هم دغه رنګ د ژبي خپل اندامونه دي چي په انګریزی کښي ورته(Parts of Speech) وئیلے شي ـ د مثال په ډولNoun اسم pronoun اسم ضمیر ، Verb فعل ، Adverb متعلق فعل، Adjective اسم صفت Prepositions ، حرف جار، Conjunctions ، حرف عطف، Interjection

حرف ندا ، هم ددې شیانو په ذریعه د جملو رغونه په وجود کښي راځي. چي په انګریزی ورته Sentence structure یعني د جملي ساخت وئیلي شي. دغه ساخت د اکثرو ژبو په یو رنګ نه وي بلکي د مختلفو ژبو ساخت د یو بل نه جدا جدا وي. دلته د پښتو او انګریزي ژبو د جملو د ساخت یو مثال وړاندې کووم.

She writes an essay.

انګریزی کښي ددې جملي ساخت څه دا رنګې دے S+ V+O

یعني اول Subject بیا verb دے او په اخر کښي object دے

خو په پښتو کښي ددې جملي جوړښت داسي دے ـ چي

هغهٔ یو مضمون لیکي ـ

دلته هم ددغي جملي ترتیب داسي جوړیږي . S +O+V

چي اول subject راځي بیا Object او په اخر کښي verb راځي.

دا ځانته یوه بله ســتونزه ده چي ډېره مســـله پیدا کوي، د یوې ژبي ګرائمر زده کول او په هغي پوهېدل ډېره ګنجلکه خبره ده څنګه چي دا د یوې ژبي د اصولو، قاعدو او ضابطو سائینس دے ـ

پښتو کښي د ژبني اوازونو مسله :

غږ پوهنه دیو ویونکي د ارتباط عمل په ښه کولو کښي ډېر اهم کردار ادا کوي، ددې په وجه پتې د ټولو تورو او نورو ټکو صحي پکاروني ته لار جوړیږي.که داسي نه وي نو بیا به د

ويناوال سره دموادو د کموت نه علاوه په خبرواترو او اوازکښې اب تاب کمے هم راځي.
۲۳

په اصطلاح کښې غږ پوهنه د ګرائېمر هغه علم دے چې د يوې خاص ژبې د اوازونو مطالعه پکښې کيږي ـــــ په حقيقت کښې دا يوه ژبه کښې د استعمالېدونکېو اوازونو د نظام مطالعه ده چې د ډېره حده ماهر اصوات سره اړۀ لري، ــــــ په دې لړ کښې بله اهمه اصطلاح (Phoneme) هم ترنظره ساتل پکار دي چې د اوازونو مجموعې ته وائي ـ بيا د اوازونو په لحاظ د حرفونو درې مشهور او څرګند قسمونه دي چې د هرې ژبې بنيادي تيکه ګڼلے شي ـ

1. حرکتيز ټکي — Vowel
2. ولاړ ټکي — Consonants
3. غبرګ حرکتيز ټکي — Diphthongs۲۴

د ژبې د زده کولو دپاره ددې علم نه ځان خبرول او په دې پوهېدل لازمه خبره ده کوم چې ځانله يو دقيق کار دے ـ

د ليکدود يا رسم الخط ستونزه :

رســـم الخط د يوې ژبې ليک دود ته وئيلې کيږي . د هرې ژبې د ليکدود جدا جدا وي. چې د متعلقه ژبې خلق پرې په اسانه پوهيږي . او لکه څنګه چې ديوې ژبې د زده کولو دپاره وئيلو او لوستلونه بغېر کار نه کيږي نوهم دغه شان ئې دزده کولو په لړ کښې د ليکلو زده کول هم لازمي وي ـــــ دغه شان د پښتود وئيلو ،لوستلو سره سره ليکل ئې هم ضـروري دي. خو دلته دا خبره د يادونې وړ ده چې دپښـتو ليکل دَ يو اهل زبان دپاره ډېر ګران دي او يو شـمير سـتونزې لري نو د غېر اهل زبان دپاره خو لا ډېرې بلها مسلې لري .ځکه چې د "پښـتو رسـم الخظ په نسخ کښې دے يعنې عربي رسم الخط دے او ښکاره خبره ده چې دغه صوتياتو ته ډېر ورته دے ـ او هم دا وجه ده چې پښتو يو شمېر عربي تورې او اوازونه مفغن کړي دي ولې د حېرانۍ خبره دا ده پښتـانه ددغه مفغن شوو الفاظو ادائيګي بيا هم پخپل طرز کوي .د مثال په ډول

| عربي | | پښتو |
| --- | --- | --- |
| ح | دپاره | هـ |
| ث | دپاره | س |
| ذ ض ظ | دپاره | ز |
| ط | دپاره | ت |

يوه خبره دا هم ده ، چې ځنې هم اواز صوته ټکي داسې هم وي چې هغه په هره ژبه کښې شتون لري ، دغه الفاظ بېلا بېل مفاهيم لري ولې داد غږپوهنې اصـول دي چې ليک به ارومرو په اواز پســې ځي په مفهوم او مطلب پسې نه ځي ـ ددې نه علاوه بعضې لفظونه خو ډېرې معنې هم لري. مطلب داچې د ليک دود د يوې ژبې سره ډېر ژور تعلق وي ــ د الله تعالیٰ فرمائيلې دي ـ

"زما په دې قلمدان او د خطاطا نو په ليک قسم وي "ـ ۲۵

ددې بره بحث په نتيجه کښې مونږ وئيلې شو چې د يوې ژبې د زده کولو په عمل کښې دليک او ژبې تعلق دنوک او د ورۍ دے. هر هغه څوک چې هره ژبه زده کوي نو د هغې ليک به ارومرو زده کوي ـ

د دلچسپۍ کشاله

لکه څنګه چې د هر فن يا هنر زده کړه شوق او دلچسپۍ ته اړتيا لري . چې ددغې په بنياد هغه متعلقه کار يا هنر په اسانه زده کوي . هم دغه شان که يو بنيادم ديوسبکنډ لبنګويج په زده کولو کښې دلچسپي لري نو هغه به ئې په زده کولو کښې ددومره دقعت سره نه مخ کيږي . په مقابله د هغه کس چې هغه ئې د زده کولو سره شوق او دلچسپي نه لري. ځکه نو که څوک پښتو د يو سبکنډ لبنګويج په توګه زده کول غواړي او هغه پکښې دلچسپۍ نه اخلي نودا به د هغه دپاره يوه لويه ستونزه رامخ ته کوي. چې هغه دې ګنې پښتو زده کړي.

د وسائلو دکموت شخړه :

دهر لوے او وړوکي کارسر ته رسـول د وسـائلو پامته دار وي. ځکه چې د وسـائلو نه بغير يو کار هم په اعلي' طريقه سرته نه رسي. دويمه ژبه زده کول هم يو لوے کار دے. دا هم وسائل غواړي ، او په دې لړ کښې دا لويه سـتونزه ده ـ ځکه نو که څوک د وسـائلو د کموت سـره مخ وي ــــ يا په معاشـي توګه کمزوري وي نو هغه ددويمې ژبې په زده کولو کښـــې دغه مســـــله خنډ جوړېدے شــــي ،دغه رنګ د ژبې د زده کولو دپاره دکتابتون،

دکتابونو ضرورت وي ـــــ د متعلقه ژبې د ژپوهانو سره د ارتباط او اړیکو ضرورت وي، ددې سره سره د نېټ او کمپوټر او د نورو جدیدو آلاتو ضرورت هم راځي ـ ښکاره خبره ده که یو کس د یوې ژبې د زده کولو په ترڅ کښې دغه سهولتونه نه لري او هغه سره دغه وسائل نه وي نو خامخا به مسلو سره مخ کېږي .او دویمه ژبه به نه شي زده کولے.

دعمرستونزه

دژبې د زده کړې دپاره دا یو اهم توکے دے. خصوصا" د دویمې ژبې د زده کړې په لړ کښې عمر ډېر جوت کردار لري. که یو ماشوم د شپږ کالو په عمر کښې ټوله مورنۍ ژبه زده کولې شی نو هغه په دغه عمر کښې دویمه ژبه هم ښه زده کولې شي. بیا چې عمر څومره زیاتیږي نو د دویمې ژبې په زده کړه کښې مسلې راپیدا کېږي. د شخصیت مسله دمورنۍ ژبې په زده کولو سره د یو ماشوم په شخصیت دومره اثر نه پرېوځی ولې د دویمې ژبې په زده کولو سره د هغه په شخصیت ژور اثر پرېوځی. ځکه چې هره ژبه دیو خاص کلتور سره اړه لري او ددغې کلتور نبغ په نېغه اثرات په زده کونکي راځي.

د ترغیب د دویمې ژبې د زده کړې دپاره ترغیب یو زړه پورې توکے دے. که یو زده کونکي ته په ښه طریقه ددویمې ژبې د زده کړې ترغیب ورکړے شي نو هغه ډېر په تیزۍ سره د زده کړې په عمل کښې بریالے کېدې شي. او که هغه ته په بې خونده طریقه د دویمې ژبې د زده کړې رغبت ورکړے شي نو هغه به ترې زړه تورے شي.

ددے بره اوږد بحث په نتیجه کښې مونږ دا وئیلې شو چې کوم کس د دویمې ژبې د زده کړې شوق لري نو هغه ته دغه بره ستونزوپه نظر کښې نیول پکار دي . ځکه چې په دغه عمل کښې هغه ذکر شوي ستونزې اومسلې مخې ته راتلې شي، چې هغه ورته په ذهني توګه ځان تیار او چمتو ساتي.

Pukhtunkhwa Journal

## حوالي


۱: خلیل صدیقي ، زبان کیا ھے ، بیکسن گلګشت ملتان، ۲۰۰۱ء ، ۱۴ مخ

۲: بشري' اکرام، ډاکټر، ژبپوهنه ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸ء ،
۲۷ مخ ۳: سحر کتوزی، سحرګل، پښتو ادب پوهنه، یونیورسټي پبلشرز قصه
خوانی بازار پېښور، جنوري ۲۰۱۶، مخ ۴۲۷

۴: داوړ خان داوړ خان، پښتو کښي ژبني اوازونه ، ،مشموله درې میاشتینی
تاتره، جدون پرنټنګ پریس خېبر بازار پېښور، اکتوبر –دسمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۲۰

۵: ۵: القران ، سوره الرحمن ، ۳ ، ۴ ایات

۶: ژبپوهنه از ډاکټر بشري' اکرام ، ۴۰

۷: هم دغه اثر، مخونه ۲۰، ۲۱

۸: [https://wac.colostate.edu › docs › sound › chapter4](https://wac.colostate.edu › docs › sound › chapter4)

۹: مشموله عارف تبسم ، مقاله، ، ژبه، قدرونه او ګلوبلا ایزپشن مشموله درې
میاشتینی تاتره، جدون پرنټنګ پریس خېبر بازار پېښور، اکتوبر –دسمبر
۲۰۰۵ء، مخ ۶۴

۱۰:https://www.basic-concept.com/c/difference-between-first-language-second-language

۱۱:https://www.basic-concept.com/c/difference-between-first-language-second-language

۱۲: اعظم، اعظم محمد، د مورنو ژبو عالمي ورځ، پښتو او پښتانۀ مشموله ،
درې میاشتینی تاتره، جدون پرنټنګ پریس خېبر بازار پېښور، اکتوبر –
دسمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۶

۱۳: داوړ خان داوړ خان، پښتو کښي ژبني اوازونه ، ،مشموله درې میاشتینی
تاتره، جدون پرنټنګ پریس خېبر بازار پېښور،اکتوبر–دسمبر۲۰۰۵ء، مخ ۲۴

۱۴: عابد عبدالله جان، ډاکټر، پشتو زبان و ادب کي مختصر تاریخ، یونیورسټي
پبلشرز افغان مارکیټ، قصه خوانی بازار پشاور، اووم چاپ، مارچ ۲۰۱۵،
مخ ۲۸

۱۵: هم دغه اثر، مخ ۲۸

۱۶: هم دغه اثر، مخ ۲۹

۱۷: هم دغه اثر، مخ ۲۹

۱۸: هم دغه اثر، مخ ۳۰

۱۹: داوړ خان داوړ خان،د پښتو محاوره ، ،مشموله درې میاشتینی تاتره، جدون
پرنټنګ پریس خېبر بازار پېښور،مارچ ۲۰۱۱ء، مخ ۴۳

۲۰: هم دغه اثر، مخ ۲۴

۲۱: هم دغه اثر، مخ ۴۴

۲۲: سحر کتوزی، سحرګل، پښتو ادب پوهنه، یونیورسټي پبلشرز قصه خوانی
بازار پېښور، جنوري ۲۰۱۶، مخ ۳۷

۲۳: https://www.managementstudyguide.com/phonetics-and-homophones

۲۴: داوړ خان داوړ خان،د پښتو اوازونه ، ،مشموله درې میاشتینی تاتره، جدون
پرنټنګ پریس خېبر بازار پېښور،اکتوبر –دسمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۱۹

۲۵: هم دغه اثر، مخونه ۲۲، ۲۳